مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۴/۰۵/۰۲

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۲۸۴مه برخه

په اننګو خالونه مه ږده
په کابلو منو ښه نه ښکاري داغونه

ته چرته یو واړې رانغلې
زه د شمال په شان سهار ماښام درځمه

امېد مې شته امن به راشي
د ملا لور ګودر ته ځي ټېټې کوینه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا نوې لنډۍ غوره شوې دي:

څۀ په نرې باران کې راغلې
قدم دې ښکل کړم که دې ګېږ کې ونیسمه

په اننګو خالونه مه ږده
په کابلو منو ښه نه ښکاري داغونه

د سترې ژوند، سترې کیسې دي
لالیه مــه مــې ږغــوه ژړاراځینــه

د شُکراني روپۍ دې کېږده
ته په ما ګران یې، تا به هسې دمومه

آ پخوانۍ ځواني مې نهشته
اوس د مرګي په تمه شپې سبا کومه

په زړه تنګون مې یار خبر کړئ
د بېلتــانــه په لمر یــې و چه پانه کــړمــه

ته چرته یو واړې رانغلې
زه د شمال په شان سهار ماښام درځمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مچو د تورى نجلۍ خوند کا**
**چې ته يې يوځل، آ دې دوه‌ځل مچوينه**

**امېد مې شته امن به راشي**
**د ملا لور ګودر ته ځي ټپې کوينه**

**د يار مې جيګه نرۍ ونه**
**ما پرې زړه کې، بله مه کړې پرې مئينه**

**د دروازې زنځير را جوړ کړه**
**وزګاره خلک دي لمنې تورويـنه**

**د تسلۍ يارانو څه شوۍ؟**
**د انديښنوسيلاب مې ښکته پورته وړينه**

**ټوپک سينګار د ځوانۍ نه دى**
**اوس له زلمو سره قلم مزه کوينه**

**وطن دې ستا وي، پکې اوسه**
**زۀ به درپرېږدمه کرلي يادګارونه**

**لنډغر ټول له ملکه ولاړل**
**زه خوارکۍ چرسي کرزي ته ناسته يمه**

**نور نه منل به بيا ونه کړم**
**زه ګلمرجان يې اوس هرچا سره منمه**

**غنى دې ورک شي زه يى طلاق کړم**
**اوس د چـرسـى کـرزى چپـنـى ورګـنـډمـه**

**دېتا دا ګډېوډې څنې**
**ما ته مې خپله زندګي رايادوينه**

**د ښو ټوپکو اوستاکاره**
**د ښو ځوانانو خون به ستا په غاړه وينه**

**په تبريکۍ کې خولګۍ راکړه**
**چې د درياب په شانې ووهم موجونه**

که مو غوښتل چې د ليکوال نورې ليکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځاى کليک کړئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ